


# کاڼے او غرګے

سعد الله جان برق

کۀ زۀ دا ووايم چې چرګو مـلا صـبب چرتـه يـو ځـائے تـه تلے ؤ او هلتـه چا پـه غرګي وويشتـو نـو ووايـئ دا بـه کومـه علاقـه وي؟ بېشـکه بې شبهې مونږ وئيلے شـو چې چرګو مـلا صـبب دير تـه تلے ؤ ځکـه چې غـرګے هلتـه هر کـاڼي تـه وائـي کۀ هغـه د ببـرې يـا د جـوار غنـم د دانـې هـومره وي او کـۀ دوه درې سـېره خـو غـرګے دے. حالانکـه غـرګے وړوکـي غـر تـه وائـي. ظلـم خـو دا کـوي چې د ګُـردې کـاڼي تـه هـم غـرګے وائـي. څـۀ مـوده وړانـدې هـم پـه دغـه علاقـه کښـې يـو سړي بـه د ګُـردو کـاڼي پـه دم ويسـتل يـو کـس ورلـه تلے ؤ وئيـل ئې سړي لـه څـۀ د خوړلـو دپـاره ورکـړي چې مـريض قـے شـروع کـړي نـو دۀ ورتـه پـه سـر لاس اېښـے وي څـۀ شـېبه پـس پـه قـے کښـې تـرې نـه کـاڼے ګـزار شـي. نـۀ يـم پوهـه چې دغـه کـاڼے د ګُردې نـه پـه کومـه لاره معـدې تـه لاړ شـي او پـه خُلـۀ ګـزار شـي خـو علـم دے نـو چرتـه بـه دا هـم پکښـې وي. خـو هغـه سړي نـه مـا تپـوس وکـړو چې هغـه سړي کـاڼي تـه څـۀ وئيـل، وئيلے کـاڼے، مـا وې دا سړے د دير نـۀ دے.

د کـاڼي ويشـتل پـه څـو څـو قسـمه دي، څوک چې چـا لـه قـرض ورکـوي نـو هغـه هـم ورسره يـو کـاڼے ورکـوي چې د قـرض غوښـتلو پـه وخـت کښـې ئې پـرې ولـي، سنګسـار کېدل يـوه سزا هـم ده پخـوا بـه چې چـا څـۀ خراب جرم وکـړو نـو پـه يـو مېدان کښـې بـه ئې وتړلـو او خلقـو بـه پـه کـاڼو ويشـتلو دغسـې يـو بـزرګ بانـدې د سنګسـار حکـم وشـو. بادشـاه ولاړ ؤ ټولـو درباريـانو کـاڼي ويشـتل يـو "سـرکاري مُـلا" د کـاڼي پـه ځـائے پـه ګـل وويشـتو، خـو بادشـاه لـه ئې دا تـاثر ورکـړو چې مـا هـم پـه کـاڼي وويشـتو هغـه چې کـوم بـزرګ سنګسـاربېدو هغـۀ ووې د خلقـو کـاڼو دومـره نـۀ وم خُـوږ کـړے لکـه څـومره چې سـتا د دې ګـل ګزار خُوږ کـړم. څۀ کـاڼي هغـه هـم وي چې پـه خُلـۀ ويشـتلے شـي خـو د کـاڼي نـه ډېـر زيـات سـخت لګي لکه خادم بابا چې وائي:

چې ژونـدے وم تاسـو ويشـتے وم پـه کـاڼو
اوس مـې څـۀ لـه ښـکلوئ د قبـر کـاڼي

خـو دا د خـادم بابـا يـو غلـط ګمـان ؤ د قبـر کـاڼي ئې هـم چا ښـکل نـۀ کـړل، څـوک لېـوني دي

چې د چا شاعر د قبر کانړي ښکلوي، د دې په ځائې د چا وزير درشل ولې نۀ ښکلوي، هسې دا خلق د شاعرانو غريبانانو يو خواهش هم نۀ پوره کوي. سېد رسول ناځاپه څومره په منت درخواست کړے دے چې:

خلقه راغونډ شئ ما په کانړو ولئ
چې په کوڅه د خپل اشنا راغلمه

خو حرام شه کۀ دے خلقو د ناځاپه دا سوال پوره کړے وي، هلکه ستاسو به پرې څۀ لګي خو يو غټ کانړے راواخلئ او په دا سر ئې وُلئ زما خپله اراده ورته شته ده خو چې کله ناځاپه وي نو کانړے نۀ وي او چې کانړي ډېر وي نو ناځاپه نۀ وي، هسې کۀ زما مشوره مني نو دير ته دې لاړ شي کانړي څۀ چې په غرګي به ئې هم خلق وُلي او لا دا مزه به ئې بيله وي چې کۀ هلته ترې چا زيارت جوړ کړو.

خدائے دې ښخ او جرړې د دې چشمو دين وباسي چې چرته ناروا خبره وي نو د چرګو مُلا صېب پورې به ئې وتړي هغه د چا خبره چې:

دا کرمے ډم خو هرګز د بدو نۀ اوړي
چې چرته بد وي د فتحې سر له به ئې راوړي

يوه ورځ مو فلم کتلو د جوليس سيزر او کلوپيترا قيصه وه کله چې جوليس سيزر ئې په چړو وهلو او د دۀ لوئے کړے بروټس هم پکښې شامل ؤ نو چې بروټس هم پرې د چړې ګزار وکړو نو جوليس سيزر ورته وکتل او وې وئيل بروټسه ته هم؟ بروټس يو ټو Brots You Too نو چشمو دين ناځاپه ټوپ کړل وئيل کمال دے، دا قيصه خو زمونږ چرګو مُلا سره هم شوې وه ما وې کله؟ وئيل چې کله هغه حج له تلے ؤ نو د "رمي" په وخت کښې ئې چې کله شيطان په کانړو وويشتو نو اواز راغلو چې چرګو مُلا صېب تا هم؟ تا نه خو زما دا طمع نۀ وه کۀ نور مې وُلي نو هغه خو پردي دي تۀ خو زما خپل مريد وې.

خبره خو ظاهره ده چې دروغ او د چشمو دين خپل تصنيف وۀ خو د وهم علاج چا سره دے، چرګو ملا صېب اوس د دې ويرې نه حج له نۀ ځي. حالانکه ما ډېره تسلي ورکړه خو نۀ مني عن دا مې هم ورته ووې چې خبر دے تۀ ئې د کانړو په ځائے په ګل ووله، خو وائي د شېطان څۀ پته لګي بدزبانه مخلوق دے په دې خبره زۀ غلے شم ځکه چې شېطان د هغۀ نه زيات بل څوك پېژني؟